# 11-AR فورم څنګه ډک کړو

**دا فورم باید هغه وخت ډک شي چې يو غيرامريکايي تبعه يوه بل استوګنځي ته کډه وکړي. دا بايد له کډه کولو وروسته په 10 ورځو کې ډک شي. د کورنۍ هر کډه شوی غړی بايد يو 11-AR فورم آنلاين يا د پاڼي په بڼه ډک کړي. دا يو قانوني پروسه ده او ځارل يې ډېر مهم دي. په دې کار کې پاتې راتلل ښايي ستاسو او ستاسو د کورنۍ د کډوالۍ پر وضعيت اغېز وکړي. په ياد ولرئ چې د خپلو سوابقو لپاره د 11-AR کاپي ګانې له ځان سره وساتئ. تاسو ښايي دغو معلوماتو ته په راتلونکي کې د کډوالۍ د وضعيت د سمون غوښتنليکونو د سپارلو لپاره اړتيا ولرئ.**

**د پاڼې په بڼه د دغه فورم د ډکولو لارښود په 1 او د انلاين ډکولو لارښود يې په 3 مخ کې دی.**

دا فورم باید د کورنۍ د هر غړي لپاره ډک شي.

که مو پته له يوه موقتي کور څخه بل ته بدلوئ، دا فورم بايد بيا ډک کړئ او خپله نوې پته پکې ولیکئ.


# د پاڼې په بڼه 11-AR فورم

که غواړئ دا فورم په پاڼه کې ډک کړئ، مهرباني وکړئ له خپل IRC د کېس يا قضيې کارکوونکي څخه يې وغواړئ يا يې له لاندې ويبپاڼې چاپ کړئ: https://www.uscis.gov/sites/default/files/document/forms/ar-11.pdf

د فورم د ډکولو په اړه لارښوونه په 2 مخ کې وګورئ.

فورم مې چې ډک کړ، قات يې کړئ او په پاکټ کې يې کېږدئ. لکه لاندې چې ښودل شوي، مهرباني وکړئ دا موارد وړاندې کړئ:

1. يوه ټاپه، چې د ليک د لېږلو اجازه درکوي.
2. نوم، تخلص او پوستي پته مو.
3. کومې پتې ته چې فورم لېږئ، لاندې ليکل شوې.



## 1 پراو: "ستاسو په اړه معلومات" برخه

**Information About You**

*Family Name (Last Name) | *Given Name (First Name) | Middle Name (if applicable)

*Date of Birth (mm/dd/yyyy) | Alien Registration Number (A-Number) (if any) ► A-

1. مهرباني وکړئ دلته مو کورنی نوم ولیکئ.

2. دلته مو نوم ولیکئ.

3. که د منځ نوم لرئ دلته یې ولیکئ.

4. دلته مو د زیږون نېټه د میاشت، ورځ، کال په ترتیب ولیکئ.

5. د "Alien Registration Number" یا بهرنیانو د ثبت شمېره" د یوه کس ځانګړي شمېره ده چې په "A" توري پیلېږي. دا شمېره مو په I-94 فورم یا د کار د جواز کارت کې د "USCIS" په نامه او یا د کډوالۍ په ویزه کې د "Registration Number" په نامه پیدا کولی شئ.

## 2 پراو: "ستاسو د پتې په اړه معلومات" برخه

**Information About Your Address**

***Present Physical Address** (No PO Boxes)

*Street Number and Name | Apt. Ste. Flr. | Number

*City or Town | *State | *ZIP Code

(USPS ZIP Code Lookup)

**Previous Physical Address**

Street Number and Name | Apt. Ste. Flr. | Number

City or Town | State | ZIP Code

**Mailing Address** (optional)

Street Number and Name | Apt. Ste. Flr. | Number

City or Town | State | ZIP Code

(USPS ZIP Code Lookup)

6. تر "**اوسنی فزیکي پته/نوې پته**" لاندې، مهرباني وکړئ د خپل کور د نوې پتې په اړه ټول معلومات ولیکئ.

6. الف. دلته مو د کوڅې نوې پته ولیکئ (مثلاً، 245 Henry Street).

6. ب. دلته مو د کور نوې شمېره ولیکئ.
*که په اپارتمان کې اوسئ، "اپارتمان یا Apt." نښانی کړئ
*که په هوټل کې اوسېږئ ؛هوټل یا سیوټ یا Ste.؛ نښانی کړئ
*که په یوه پوړ کې اوسېږئ "پوړ یا Flr." نښانی کړئ
د "شمېرې"په باکس کې د دغه اپارتمان/هوټل د خونې/پوړ شمېره ولیکئ (مثلاً، apt. 2A).

6. ج. دلته د خپل نوي ښار/ښارګوټي نوم ولیکئ چې پکې اوسېږئ (مثلاً. Seattle, Turlock, Phoenix).

6.د. دلته مو نوی "زیپ کوډ" ولیکئ، دا یوه 5 عدده شمېره ده (مثلاً، 10015، 27109، 46312.

6.هـ. لاندې له انتخابونو څخه خپل د اوسېدو نوی ایالت وټاکئ. انتخابونه د دوو تورو مخفف په توګه لیکل شوی (مثلاً، واشنګټن"WA"، کلیفورنیا "CA"، اریزونا "AZ").

7. تر "**پخوانی فزیکي پته/زوړ پته**" لاندې مهرباني وکړئ د خپل پخواني اوسېدو ځای په اړه ټول معلومات ولیکئ (کېدای شي موقتي وي او یا دایمي). دا د هغه ځای پته ده چې اوسني ځای ته مو کډه تري کړې. که په امریکا کې پخوانی پته نه لرئ، مهرباني وکړئ د IRC د اداري پته ولیکئ.

**8.** که یې په خپله نوې پته ترلاسه کولی شئ، نو "**د لیږلو پته**" کېښ مټ لکه د "اوسنی فزیکي پته" برخي پشان ډکېږي. که په موقتي کور کې اوسېږئ، کولی شئ د IRC د اداري پته یا مو په امریکا کې د کوم خپل د دایمي اوسېدو پته د لیږلو د پتې په توګه ورکړئ.

## 3 پراو: "ستاسو لاسلیک" برخه

**Your Signature**


*Your Signature | Date of Signature (mm/dd/yyyy)

9. مهرباني وکړئ دلته لاسلیک وکړئ. که دا سند آنلاین ډکوئ، مهرباني وکړئ خپل بشپړ نوم ولیکئ. په یاد ولرئ، والدین یا سرپرستان د هغو ماشومانو پر ځای لاسلیک کوي چې سن یې تر 18 کالو ټیټ وي.

10. مهرباني وکړئ د دغه سند د لاسلیک نېټه د میاشت، ورځ، کال په ترتیب ولیکئ.

# 11-AR آنلاین فورم


که غواړئ دا فورم انلاین ډک کړئ، دلته ورشئ:
https://egov.uscis.gov/coa/displayCOAForm.do




## آنلاین اضافي پراوونه


1. کله چې لومړي مخ ته راورسېدئ، ښکته لاړ شئ او پر "دوام یا Continue" کلیک وکړئ.

2. که مو د کډوالۍ اړوند غوښتنلیک درج کړی وي یا په تمه وئ او تر اوسه مو پرېکړه، کارت یا سند نه وي ترلاسه کړی، مهرباني وکړئ پر "هو" کلیک وکړئ. که یوازې 11-AR فورم ډکول غواړئ، پر "نه" کلیک وکړئ.






3. فورم د 2 مخ د لاربښوونو په څارلو بشپړ کړئ.

4. مهرباني وکړئ خپل برېښنالیک دلته ولیکئ ( eg. jon.williams@gmail.com).




5. مهرباني وکړئ له لاندې انتخابونو وټاکئ چې دا فورم چا ډک کړی. د هغه کس (الف) نوم ، (ب) تخلص، (ج) د سازمان لپاره شرکت او (د) نېټه ولیکئ.








که متقاضي پخپله فورم ډکوي، ویې ټاکئ.

که قانوني استازی یا وکیل فورم ډکوي، ویې ټاکئ.

که والدین یا قانوني سرپرست فورم ډکوي، ویې ټاکئ.


6. مهرباني وکړئ هغه توري او شمېرې ولیکئ چې په خړ رنګه باکس کې یې وینئ.




که غواړئ یو ځوک په انګلیسي دا شمېرې او توري درته ووایي، دلته کلیک وکړئ.

که نوي شمېرې او توري غواړئ، دلته کلیک وکړئ.

7. مهرباني وکړئ پر دې باکس کلیک وکړئ چې سند لاسلیک کړئ او ژمنه وکړئ چې ټول وړاندې کړې معلومات کره او سم دي.




8. پر "سپارل یا Submit" کلیک وکړئ چې خپل غوښتنلیک وسپارئ.